دا چې ستاسو څخه يو څوک خپله رسۍ واخلي، او په شا ګډې راوچلوي او بيا يې خرڅ کړي، او پدې سره يې الله تعالى د هغه مخ (له عذاب) څخه وژغوري، دا ورته لدې ډېره غوره ده چې له يو چا څخه سوال وکړي، چې يا به يې ورکړي او يا به يې ترې منع کړي

له زبير بن العوام رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «دا چې ستاسو څخه يو څوک خپله رسۍ واخلي، او په شا ګډې راوچلوي او بيا يې خرڅ کړي، او پدې سره يې الله تعالى د هغه مخ (له عذاب) څخه وژغوري، دا ورته لدې ډېره غوره ده چې له يو چا څخه سوال وکړي، چې يا به يې ورکړي او يا به يې ترې منع کړي».

[صحيح دى] [بخاري روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې يو کس بايد خامخا يو کار وکړي، آن تر دې چې يوه رسۍ واخلي، په شا لرګي راټول کړي، بيا يې خرڅ کړي او له همدې لاري وخوري او يې خيرات کړي او د خلکو له ورکړې پرې ځان بسيا شي او د سوال کولو له سپکاوي خپل مخ وژغوري؛ دا به ورته لدې غوره وي چې له خلکو سوال وکړي؛ چې يا به يې ورکړي او يا به يې ترې منع کړي، ځکه له خلکو سوال کولو کې ذلت دى، حال دا چې مومن الله تعالى عزتمن پيدا کړى نه سپک او ذليل.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3785

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee